# د پښتو شاعری پینځۀ مکتبونه
# یوه تجزیاتي مطالعه
# Five School of thoughts in Pashto Poetry: An analytical study

Dr Sajjad Elahi[1]
Dr Shakeel Ahmad[2]

**Abstract:**

*The evaluation and development of a society leads to increase in the knowledge with in the society researchers and expert categories. This knowledge according to literary standard this approach also apply to literature which is categories into different schools of thought based on the different philosophies involved. This classification not only provides information about the promotion, development, quantity and quality of literature but also helps with the identification of the particular literary school and their thought and writing style this identification enables researchers to view the writing literature with new perspectives ride's in conducting further analysis and the development of new schools of thought for this reason the research article, titled, five literary, school in Pashto literature In analytical study is a crucial and vital contribution to the develop merit of Pashto literature this research critical will also prove to be a valuable resource for researchers enabling them to further exam in literature with new perspectives.*

**Keywords:** سبک، مکتب پښتو شاعري

د پښتو شاعری باقاعده ابتدا د امیر کروړ له خوا پۀ ۱۳۹ هجري کښې پۀ لاس د راغلي موادو له وجې ګڼلے کېږي ـ دغسې چې د امیر کروړ نه تر دې دمه پورې دغه سفر پۀ نظر کښې ساتو نو تقریباً دولس سوه نه زیات کلونه عمر لري ـ پۀ دې لړی کښې پۀ سلګونو یا پۀ زرګونو شاعران تر نن وخته پورې راغلل او تېر شول ـ داسې شاعران هم تېر شول چې خپلې نامې ئې د شعر پۀ هنر ژوندی وساتلې او داسې شاعران هم تېر شول چې شعر به ئې غوره و خو د وخت د جبر له لاسه ئې

[1] Lecturer in Pashtu, ICU, Peshawar
[2] Lecturer in Pashtu, UO Peshawar

مواد پاتي نۀ شول او نن ځوک د هغوي نامه نۀ اخلي . هم دغسې داسې شاعران هم تېر شول چې ډېره لږه موده ئې چرچه وه خو د وخت د تېرېدو سره ئې هغه اهميت پاتې نۀ شو او له مينځه لاړل . پۀ دې مقاله کښې د پښتو شاعرئ هغه شاعران متعارف کولے شي چې هغوي خپل يو ځانګړے اسلوب لري او دغه اسلوب ئې د نورو شاعرانو نه بېل مکتب کښې ودروي . دلته چې د کومو پنځو شاعرانو ذکر کېږي دغه شاعران د ځانګړي اسلوب له مخه پۀ شعري ټولنه کښې وپېژندے شول او دغسې يو شمېر شاعران داسې دي چې د دغو شاعرانو د اسلوب اثر ئې پۀ ځان قبول کړے دے ځکه نو دغه اسلوبياتي رنګ پۀ مکتب باندې حسابولے شي . تر هر څۀ د مخه چې د اسلوب لنډه پېژندنه وشي نو غوره ده چې د هغې پۀ رڼا کښې د پښتو شعري ادب پينځۀ ستنيز عمارت خاکه پرې راجوړه شي. د اسلوب پۀ حقله فېض الوهاب فېض ليکي چې :

> "پۀ خارج کښې راتلونکے بدلون د نوې زمانې تعين کوي او د نوي اسلوب د راپېدا کولو بار اوچتوي او دغسې نوې زمانه د نوي اسلوب سره يو ځاے خپله پېژندګلو کوي. يعنې اسلوب هغه څيز دے چې يوه زمانه د بلې زمانې، يو شے د بل شي يا يوه ادبپاره د بلې نه جدا کوي"[1]

هم دغه رنګه چې دغه اسلوب پۀ جدا شکل کښې وپېژندے شي نو پۀ شعوري او غېر شعوري توګه باندې شيان د دې نه اثر اخلي . شاعري هم دغه مثال ده چې يو اسلوب رامينځ ته شي نو پۀ ټولنه کښې ئې مقبوليت دا وي چې د هغې اثر پۀ څۀ نه څۀ شکل کښې پۀ شعوري او غېر شعوري توګه باندې خپور شي . چې کله دغه اثر سېوا شي او ګڼ کسان ئې اختيار کړي نو د مکتب شکل اختيار کړي . دلته هم دغه مکتبونه پۀ ګوته کولې شي چې ترتيب ئې پۀ دا ډول دے .

### مېرزاخان انصاري :

مېرزا خان انصاري چې د پير روښان نمسے دے او د زېږون کال ئې ۹۸۰هـ تر۹۹۰ ه تر ميان واقع دے . کۀ وګورو نو د پښتو شاعرئ وړومبے صاحب ديوان شاعر باقاعده توګه باندې ملا ارزاني دے د عمر او تجربې پۀ حساب باندې ملا ارزاني د مېرزاخان انصاري نه ستر دے . خو چې کله پۀ ادب کښې د مقام د تعين خبره راځي بيا د مېرزاخان مقام داسې دے چې پۀ شاعرئ کښې ئې خپل ځانګړے اسلوب دے چې اثر ئې تر ډېره

وخته پۀ لویو لویو شاعرانو باندې خپور شوېدے . ځکه دلته دغه مېرزا خان انصاري د خپل ځانګړي اسلوب لۀ مخه پېژندل کېږي وروستو د صوفیانه شاعرئ اثر هم د دۀ د اسلوب ځنې اخستے شوے دے . د مېرزاخان انصاري ځانګړے داسلوب د دۀ پۀ کلام کښې تصوف (وحدت الوجود) پۀ داسې روماني انداز کښې وراندې کول دي او پۀ داسې لفظونو کښې ئې دغه اصطلاحات د تشبیهـ او استعارو سره راوړي دي چې د دۀ مقام د نورو صوفي شاعرانو نه بېلوي . لکه وړاندې اووئیلے شول چې د مېرزاخان پۀ شعر کښې به د ملا ارزاني رنګ وي خو ولې مېرزاخان د ملا ارزاني رنګ پۀ داسې انداز کښې پۀ ځان کښې جذب کړے چې راتلونکو صوفي شاعرانو د ملا ارزاني پۀ ځاے مېرزاخان انصاري طرف ته رجوع کړې ده .پۀ دې حقله باندې محمد اکبر کرګر وائي:

"کله چې د پښتو تکاملي بهیر څېړو او پۀ هغۀ کښې پۀ غزل تمرکز کوؤ نو پۀ دیوان لرونکو شاعرانو کښې مېرزاخان کۀ مبالغه نۀ وي وړومبنے شاعر دے چې غزل ئې هم تغزل لري او هم د یوې مفکورې او عقیدې تبلیغ او اظهار لپاره وسیله شوے دے . مېرزا سخت فلسفي، عرفاني مطالب د غزل پۀ فورم ارایا کړي دي ."[2]

حالانکه دا دعوٰی هم بېخي غلطه ده چې ګنې یو څوک بېخې نوے رنګ قبول کړي . پۀ دنیا کښې نوے یو څیز هم نۀ تخلیق کېږي د دې پۀ شا باندې زرګونو کلونو زاړۀ تجربات او رنګونه غزونې کوي . د مېرزا خان انصاري دغه نوے والے پۀ داسې ځانګړي رنګ دے چې راتلونکو روښاني شاعرانو لکه دولت لواني، علي محمد مخلص او واصل روښاني پۀ شعوري او غېر شعوري توګه د دۀ شاګردي اختیار کړې ده . پۀ دې خبره ډاکټر راج ولي شاه خټک لیکي چې:

"د روښنیه تحریک پۀ غړو کښې مېرزاخان انصاري پۀ ځنې خبرو امتیاز لري . یو خو پۀ دې چې د دۀ نه ورستو راتلونکیو روښاني شاعرانو د شعر معیار د مېرزاخان نه اخستے دے . بل دا چې وړومبے پښتو شاعر دے چا چې پښتو غزل کښې د وحدت فلسفه پۀ کامیابی سره ځاے کړه ."[3]

د مېرزا خان انصاري دغه رنګ ورستو خوشحال هم ستائیلے دے وائي چې :

”پښتو ژبه مشکله ددې بحر مونده نه شي
هم ما لره يو څو بحره په ډېر مښود راغلي
له چا نه په پښتو کښې ما ميزان ليدلے نه
دے
مېرزا په دا زبان کښې وئيل کړي دي تللي“[4]

**يعني د مېرزا زبان هم شيرين ؤ او د زبان د پاره چې ئې کوم چوکاټ پکارؤ په هغه تله باندې هم پوره تلے دے. څکه په دغه لړ کښې علي محمد مخلص، دولت لوانړے، او واصل روښانے د مېرزا د مکتب شاعران دي. دغه رنګ رحمان بابا او عبدالقادر خان خټک هم د مېرزاخان د تصوف اثر قبول کړے دے . د روښاني تحريک مخالفينو کښې چې د اخونانو څومره هم سرخېلان شاعران دي د هغې عرفاني کلامونه هم د مېرزا خان انصاري نه متاثره ښکاري. ولې چې د اخون درويزه په ډله کښې داسې کوم صاحب ديوان شاعران نه وو کوم چې په روښاني ډله کښې وو څکه د اخون درويزه جانشينو په شعر کښې په غېر شعوري توګه د مېرزا رنګ لرلے دے. که شلمې صدئ ته راشو او وګورو نو د پښتو غزل نوموړے شاعر امير حمزه شينواري هم د خپل تصوف د پاره د مېرزاخان انصاري نه قايله دے. وړاندې هم که چرې د تصوف د مکتب فکر سره کوم شاعران راتلل دا پوره امکان دے چې که هغوي خپل ځانګړے اسلوب ونه مونده، نو په يوه نه يوه حواله باندې به د مېرزاخان انصاري اثر قبلوي .**

خوشحال خان خټک :

خوشحال خان خټک چې دلته ئې روايتي پېژندنه غېر ضروري ګڼم . د ادبي مقام په حواله يوازې شعري نه بلکې که په هره حواله د پښتون تاريخ نه خوشحال وباسې نو زما خيال دے چې کنګال پاتې کېږي . د شعري مکتب په حواله باندې خوشحال هغه مکتب دے چې په پښتو ادب کښې تر ټولو زيات پېروي هم د دهٔ ،مکتب شوې ده . خوشحال خان خټک چې ک له پښتو شعري مېدان ته راوتو نو دغه وخت ملا ارزاني، مېرزاخان انصاري، دولت لواڼي او ځيني نورو شاعرانو خپلې ټُورې وهلې وې . د پښتو هغه شعري ژانر چې د تصوف او عرفاني موضوعاتو په علاماتو کښې روايتي شوے و. خوشحال خان خټک د يو نوي رنګ سره دغه روايتونه مات کړل . خوشحال خان خټک قامپرستي، اخلاقيات، جماليات، مذهب،

فلسفه او عن تر دي هره هغه موضوع چې د وخت ضرورت ؤ، خوشحال خان خټک پۀ شاعرۍ کښې رامېدان ته کړه . کۀ وګورو د سوات نامې غونډې تاريخي سفرنامه او د طب نامې غونډې د طب اثار هم خوشحال شعري چوکاټ کښې بيان کړل . خوشحال خان خټک د خپل شعر پۀ حقله پخپله هم دعوي لري چې :

"پۀ پښتو ژبه چې ما علم بلند کړو
د خبرو ملک مې فتح پۀ سمند کړو
د مېرزا ديوان مې ومانده پۀ ګُوډې
مسخره مې ارزانې خېشګي زمند کړو
کۀ دولت و کۀ واصل وو کۀ دا نور وو
پۀ خبرو مې د هر يو ريشخند کړو
پۀ تشبيه او پۀ تمثيل پۀ نزاکت کښې
عذوبت مې د خبرو چند در چند کړو"[5]

د خوشحال خان خټک دغه دعوی هيڅ مبالغه نۀ لري . ولې چې د پښتو شعري مکتب چې د مېرزاخان انصاري پۀ پېروی کښې روان ؤ خوشحال خان خټک پکښې د يو نوي مکتب پرانسته وکړه . دغه مکتب د هغۀ جانشينو او پاتي د قامي او مزاحمتي رنګ شاعرانو خپل کړے دے . دخوشحال خان خټک پۀ ځانګړنه کښې خصوصي د هغۀ مزاحمتي او قامي تصور دے. ځکه د خوشحال پۀ جانشينو کښې د اشرف خان هجري او ځينې ځاے کښې د عبدالقادر خان خټک نه علاوه چا دغه رنګ لکه د پلار خپل کړے نۀ دے . خو ولې دغه رنګ هغه وخت د يو مضبوط مکتب پۀ توګه مينځ ته راغے چې پۀ شلمه صدی کښې د (نېشنلزم) تصور پۀ ټوله دنيا کښې غزونې وکړې . پۀ دغه پس منظر کښې د خدائي خدمتګارو شاعرانو او نورو تحريکونو سره وابسته شاعرانو لکه کاکاجي صنوبر حسېن او داسې نورو د خوشحال خان خټک نه نېغ پۀ نېغه رنګ اخستے دے . هم دغسې د هند د تقسيم نه پس چې پاکستان پۀ وجود کښې راغے د پاکستان پۀ چوکاټ کښې د قامونو مسئله لا هم سېوا شوه . د شاعر د پاره بيا هم د قامونو د خپل اختيار خبره مخې ته چېلنج ؤ. ځکه پۀ دغه تناظر ک ښې کۀ قامي شاعري ده او کۀ ترقي پسند مکتب فکر سره وابسته شاعران دي لکه اجمل خټک، قلندر مومند او سېف الرحمان سليم وغېره هم کۀ د کوم مکتب فکر سره وابسته ګڼو نو هغه د خوشحال مکتب دے . د قامي شاعرۍ رنګ او د روماني شاعرۍ رنګ چې د ثور انقلاب نه پس ته پۀ وجود کښې راځي هم پۀ شعوري او غېر شعوري توګه د خوشحال مکتب ته ورته دي . د

خوشحال دغه د شعر شوخ ، باغيانه ، او خپلواکه رنګ نن هم د ځوان کول پهٔ شعر کښې جوت ليدهٔ شي او لا امکان شته چې پښتانهٔ تر څو پهٔ سياسي توګه د محروميو سره مخ وي او تر څو د دوي مبارزه دوام لري نو هر شاعر به ئې پهٔ څهٔ نهٔ څهٔ رنګ کښې د خوشحال د مکتب غړے ګرځي .

Pukhtunkhwa Journal

**رحمان بابا:**

عبدالرحمان مومند چې پهٔ پښتنو کښې پهٔ رحمان بابا باندې پېژندګلو لري . پښتون اولس کښې تر ټولو مقبول شاعر دے . د د ژوند متعلق معلومات هر څو کهٔ لا پهٔ تيارو کښې دي خو دا خبره پهٔ ډاګه ده چې د اورنګ زېب پهٔ باچاهی کښې ئې ژوند کړے دے . پهٔ دغه حواله رحمان بابا ته دا اعزاز حاصل دے چې پهٔ ګرده پښتونخوا کښې د مېرزا خان او د خوشحال مکتبونه عروج ته رسېدلي وو. رحمان بابا پهٔ دغه شاعرانو کښې د يو ځانته مکتب رغونه کړې ده . هر څو کهٔ د رحمان بابا کلام کښې لږ ډېر تصوفي رنګونه د مېرزا خان انصاري نه اخذ دي . خو پهٔ کلام کښې عشقيه، ناصحانه او اخلاقي رنګونه رحمان بابا پهٔ ساده او روانه اولسي ژبه کښې بيان کړي دي . د رحمان بابا د شعر اعجاز هم دغه د هغهٔ انداز بيان دے چې هره مشکل خبره ئې د شعر پهٔ ژبه باندې د متل او محاورې غوندې عامه کړې ده . پهٔ دې حقله ډاکټر راج ولي شاه خټک وائي چې :

> ”د رحمان بابا فن هم ساده دے اګر چې فن پهٔ خپله هم لطافت خوښوي او بيا د غزل پهٔ فن کښې خو نازکي او تشبيهات باريکي لا زياته ضروري وي . ولې د رحمان بابا کمال دا دے چې سره د فني صنعتونو هغهٔ غزل د سادګی فن تر دومره حده رسولے دے چې ګران نه ګران خيال هم د رحمان بابا پهٔ ژبه اسان شي“[6]

د رحمان بابا رنګ کهٔ د ترجمې پهٔ شکل کښې د حافظ (فارسي) نه متاثره دے خو دا خبره پام کښې لرل دي چې عربی پهٔ فارسی او فارسی بيا پهٔ نورو مشرقي ژبو باندې پوره اثر پرېښے دے . تر دې چې پهٔ هندوستان خو تر ډېرې مودې فارسي سرکاري ژبه پاتې شوې ده . رحمان بابا کهٔ هر څنګه رنګ د چا نه قبول کړے دے خو پهٔ يو داسې انداز ئې بيان کړے دے چې هغه خالص پښتون ګرځېدلے دےاو دغه د رحمان بابا د مکتب د خاوند د ګرځېدو وجه ده . د رحمان بابا د مکتب او مقبولتيا پهٔ حواله کهٔ مونږه وګورو نو د پښتو شاعرانو باندې اول اول کار مستشرقينو کړے دے ځکه څومره مستشرقينو چې هم کار کړے دے رحمان بابا ته ئې د شاعرانو د سرخېل درجه ورکړې ده . د رحمان بابا دغه شاعرانه تعلي د هغهٔ د مکتب پهٔ لړ کښې هېڅ مبالغه نهٔ ده .

”خوشحالا او دولتا مې غلامان دي
زۀ رحمان په پښتو ژبه عالمګیریم“[7]

ورستو شاعرانو چې د رحمان بابا اثر قبول کړے دے نو تر ټولو غوره پکښې د رحمان بابا هغه پندانه او ناصحانه شاعري ده چې د (پښتون روایتي اخلاقیاتو) رنګ ورته هم وئېلے شو. ځکه یو خوا کۀ د رحمان بابا اثر پۀ څۀ نه څۀ شکل کښې د حمید بابا غونډې د مکتب خاوند باندې شتون لري نو بلخوا دغه رنګ ډېرو شاعرانو پۀ داسې ډول خپل کړو چې ځانونه ئې په باقاعده توګه د رحمان بابا مریدان ګرځولي دي . پۀ دې لړ کښې د عبدالقادر خټک شاعري داسې ده چې پلټنه غواړي چې ځینې رنګ هغۀ د رحمان بابا نه اخستے او کۀ رحمان بابا د هغوي نه اخستے دے ولې چې د عمر پۀ لحاظ یو دي . ورستو شاعرانو کښې حافظ الپوري، عبدالعظیم بابا، میر انور شاه، ملا لتاړ، خواجه محمد بنګش، شمس الدین کاکړ او ځینې د خوشحال نمسي د رحمان بابا د مکتب سره وابسته دي . د رحمان بابا کلام چې د خپل پند او نصیحت له کبله پۀ رباعی باندې مشهور شو اګر چې د رباعی فني چوکاټ جدا دے خو پۀ عام اولس کښې د غزل هر هغه شعرونه چې پند او نصیحت پکښې ؤ رباعي وګرځېده او دغسې دغه رباعي پند او نصیحت د چاربېتې د دور شاعرانو (اخونانو) هم خپل کړي دي . کۀ ورستي هغه شاعران پۀ پام کښې ونیسو چې مونږ ئې د اولسي دور سره منسوؤ نو دغه شاعرانو کښې هغه اخونان چې مثنوي ئې لیکله او یا قیصه نو پۀ مینځ کښې ئې د غزل د چوکاټ شعرونه چې د پند او نصیحت پۀ توګه وو د رحمان بابا د اثر نه ډک وو. احمدین طالب، علي حېدر جوشي، امان اخون او ورستي هغه ټول شاعران چې دیوانونه ئې لیکلي دي د رحمان بابا د مکتب شاعران دي . د پښتو د جدید دور نوموړے شاعر ریاض تسنیم هر څو کۀ غزل کښې نوي موضوعات لري یا د اردو د غزل اثر لري ولې چې تسنیم پۀ کراچی کښې پاتې شوے ؤ خو بیا هم چې د هغۀ د کلام عشقیه رنګ څوک پۀ پام ولولي نو هغه داسې ښکاري چې پۀ دغه رنګ کښې نوے رحمان بابا غرېږي . د دې اعتراف هغه پۀ خپله هم کوي چې زۀ د سړبن د دبستان سره وابسته یم او د سړبن دبستان د رحمان بابا د شعر نه وجود موندلے دے .

عبدالحمید مومند:

موشګاف عبدالحمید مومند یا نازک خیال عبدالحمید مومند
چې د زېږون نېټه ئې د ۱۰۷۵هـ او ۱۰۸۰هـ ترمینځ اټکل
دي . څنګه چې رحمان بابا د مېرزا خان او د خوشحال خان
ترمینځه خپل مکتب ته لاره هواره کړې ده هم دغسې حمید
بابا هم د مېرزا خان ، خوشحال او رحمان بابا ترمینځه
خپل ځان د جدا مکتب خاوند ګرځولے دے . په دې لړ کښې
داسې ښکاري چې حمید بابا لکه چې د دغه عمارت څلورمه ستن
وي او د پښتو کلاسیک شاعرئ څلور ستنې هم دغه نوموړي دي .
په دې حقله خواجه محمد سایل وائي:

"عبدالحمید بابا د پښتو ادب د هغه دریو اوچتو او نامتو شاعرانو نه یو دے څوک چې د یو سبک پېروکار دي . یعنې کۀ خوشحال خان خټک د قومیت یا رحمان بابا د تصوف شاعر دے نو عبدالحمید بابا د نازک خیالئ د سبک استاذ او مشر دے ."[8]

لکه څنګه چې د فارسي شعر نه زمونږه مکتبونه متاثره
ښکاري هم دغسې حمید بابا هم په یو نه یو شکل کښې فارسي
مکتبونو ته رجوع کړې ده . ځکه کوم ځائے چې په شعوري توګه
باندې د هندي سبک اغاز په پښتو کښې کېږي نو سرخېل ئې
حمید مومند دے . لکه چې ډاکټر راج ولي شاه خټک په دې
حقله وائي:

"په عصر کښې د پښتو غزل د فني کولو او علمي کولو د تحریک یو بل ځلانده ستورے عبدالحمید بابا دے . چې د نازک خیالئ او لطافت په سبب په موشګاف عبدالحمید شهرت لري . د تشبیهه په فن کښې حمید بابا استاذ شاعر دے کوم نادر تشبیهات چې حمید بابا په خپل کلام کښې راوړي دي هغې په پښتو غزل کښې د یو نوي سبک مکتب ساز کړے دے . په پښتو غزل کښې خپل منفرد انداز له مخه حمید بابا د راتلونکیو غزل ډېر متاثر کړے ."[9]

خو د حمید مومند ځانګړنه دغه ده چې د فن په لحاظ د
فارسي نه متاثره دے خو د موضوع په لحاظ د هغۀ په کلام
کښې داسې کوم خاص رنګ نه ترلاسه کېږي . یعنې د هندي سبک
هغه اسلوب چې د لفظ، معنې، انداز بیان، علامت، تشبیهه او
استعارې د پاره وضع شوے ؤ هغه حمید بابا پښتو ته راوړل
. خو حمید بابا پکښې موضوعات خپل وړاچول او دغسې دغه
هندي سبک چې په فارسي کښې شاید عروج هغه هومره ونه

مونده کوم عروج ته چې حمید مومند او د دهٔ پیروانو وګرځوهٔ . څکه د حمید مومند دغه تعلي مبالغه نهٔ وه .

"فارسیبانو د حیرت ګوتې پهٔ غاښ کړې
چې حمید سخن سازي کړه پهٔ پښتو کښې "[10]

د نادرو تشبیهاتو او نااشنا علامتونو جوړښت د حمید رنګ د حمید مکتب ګرځولے دے . څکه یوه هغه ډله چې د رحمان بابا لار ئې خپله کړه . ولې بل طرف ته څهٔ ته چې مونږه هندي سبک وایو پهٔ بله معنه کښې دا یو قسم له د حمید مکتب ګڼل پکار دي چې تر دې دمه ورته چا پام نهٔ دے کړے . پهٔ د غه ډله کښې علي خان، کامګارخټک،کاظم خان شېدا، معزالله خان مومند، مصري خان ګګیانړے، محمدي صاحبزاده، او قمبرعلي خان هغه صاحب دیوان شاعران دي چې باقاعده د دغه مکتب د سیوري لاندې ولاړ ښکاري .
البته یو سوال د کاظم خان شېدا پهٔ حواله راولاړیږي ؟ او هغه دا چې ایا شېدا د کوم مکتب خاوند دے کهٔ نهٔ دے . کهٔ مونږه د شېدا اسلوبیاتي جائزه واخلو نو پهٔ دغه معامله کښې د لفظونو او معنې ترحده ترټولو پهٔ ستر مقام ولاړ دے . خو چونکې د مکتب د جوړېدو د پاره چې کومې غوښتنې وي لکه چې شېدا پهٔ هغې کښې پاتې دے . ولې چې د شېدا مخې ته ټول شاعران وو او هغهٔ لوستي هم وو. لکه وائي چې :

"پهٔ دا هومره پښتنو کښې
بیا پهٔ ژبه د پښتو کښې
پهٔ دا فن کښې څو اشخاص دي
چې پهٔ نزد د خرد خاص دي
چې خوش ګوئي و همدان دي
ډېر زمونږ د خاندان دي
یو مرزا دولت واصل هم
ښهٔ کلام لري حاصل هم"[11]

پوره شعرونو کښې شېدا د خپل خاندان شاعران یادوي او بیا چې خبره کوي نو له مرزاخانه ئې شروع کوي . پهٔ خپل بیان کښې ئې ملا ارزاني له مینځه وړے دے . هم دغسې دوه د مکتب خاوندان یو رحمان مومند او بل حمید مومند هم یادوي لکه وائي چې:

"په دا وخت کښې کۀ شېدا دواړه مومند وے
ثنا خوان به وو هر دم ستا د وئېلو"[12]

شېدا کۀ هر څو نازک خيالي، خيال افريني، مشکل پسندي عروج ته رسولې ده خو يو خوا کۀ ورته د شاعرانو اپروچ مشکل وو نو بلخوا ئې شاعري هم د خپل وطن نه لرې پاتې شوې ده کومې له وجې چې د مکتب څښتن نۀ دے گرځېدلے . البته د شېدا د اثراتو امکان په پښتو شاعرئ کښې شته خو لا وخت به اخلي . ځکه چې د شېدا کلام دومره د مشکل پسندئ سره مخ دے چې په شلمه صدئ او يويشتمه صدئ کښې چې انټرنيټ ټولې ژبې او معنې موندل اسان کړي دي بيا هم د شېدا تشريحات مکمل شوي نۀ دي .

غني خان:

د پورته ياد شوو مکتبونو او د غني خان د مکتب تر مينځه پوره د دوه دوه نيم سوو کلونو فاصله ده . غني خان چې په ۱۹۱۴ء کښې په اتمانزو کښې د خان عبدالغفار خان باچاخان کره پېدا دے . دغسې د شاعرئ باقاعده اغاز ئې د ۱۹۳۰ء خواوشا کښې کړے دے . اوس کۀ د پښتو شاعرئ د ارتقا خبره کوو نو د احمد شاه ابدالي د دورې نه پس داسې خاص کوم غزلگو يا مشهور شاعر مينځ ته نۀ دے راغلے . د دې يوه وجه خو په پښتو شاعرئ کښې د مثنوي او چاربېتې رجحان وو؟ چې لۀ مينځه ئې غزل يا نور اصناف د زوال سره مخ کړي وو. ؟ تر شلمې صدئ پورې پښتو شاعرئ کښې کۀ هر څو روايتي شاعران موجود وو چې پکښې خاص د مکتب کوم خاوندان پېدا نۀ شول . ولې هر کله چې پښتانۀ د مغربي علومو سره د اردو يا د انگرېزئ د لارې اشنا شول نو په ټوله شاعرئ کښې دا دوره د انقلابي قدم په توگه باندې هم گڼلے شي . هم دا دوره ده چې مغربي فلسفه نېغ په نېغه پښتو ادب ته رادننه شوه . د نثر نه علاوه دې دورې هر څو کۀ لوئي لوئي شاعران وزېږول لکه فضل محمود مخفي، محمد اکبر خادم، عبدالاکبر خان اکبر، کاکاجي صنوبرحسېن، حمزه شينواري، سمندر خان سمندر او داسې ډېر چې د خپل کلاسيکي (پورته ياد شوي مکتبونه) شاعرئ لمن ئې بيا ونيوله او هغه لرئ چې د چاربېتې او مثنوي دورې سره ماته شوې وه سره بيا تازه شوه . د دې دورې د مکتب خاوند يواځې غني خان گرځېدلے دے چې د شعر اثر او مقبوليت ئې په شلمه صدئ کښې اگر چې کم

وو خو د یوېشتمې صدۍ پۀ جدید نظم باندې د غني خان اثر جوت لیدے شي . دغني خان پۀ حقله ډاکټر محمد اعظم اعظم لیکي چې:

"د پښتو ادب او د پښتو ادب لوستونکو د پاره د غني خان نامه د انقلاب یو علامت دے . دا قهرمان او جالوان شاعر که یو خوا د فکر او تخیَل له غاړې د پښتو شاعرۍ له یوه نوې بشپړه څهره ورکړه نو بل خوا ئې د اسلوب او بیان یوه داسې جدیده پېرایه خپله کړه چې هغه د غني خپله وه د بیان پۀ دغه پېرایه کښې د هېڅ قسمه شعوري او تقلیدي زیار لیدے نۀ شي او د اسلوب دغه انداز کښې سراسر یوه سادگي او بې ساختگي پرېښې چې رنگینۍ ترینه څارېږي ."13

پۀ نظم کښې جمالیات، وجودیت، ترقي پسندي، نېشنلزم، رومانټسیزم، سیاسیات، عن د مغربي قدیم او جدید اکثر فلسفیانه مباحث د غني خان د ځانگړتیا وجه گرځېدلې ده . د غني خان شعري ژانر چې زیاتره د وزن، بحر، ردیف او قافیې نه بهر دے نو بل خوا ئې موضوعات پۀ طنزیه لهجه یا پۀ علامتي رنگ کښې وړاندې کول هم ځانگړنه ده . د غني خان ځینې ځانگړنې د هغۀ باغیانه موضوعات دي چې پۀ اول ځل ئې د روایتونو پۀ ضد خپله خبره وړاندې کړې ده . دا امکان پوره پوره دے چې غني راتلونکیو وختونو کښې د یو ستر مکتب پۀ توگه باندې وپېژندے شي .

پۀ دې لیکنه کښې دوه شاعران داسې دي چې د هغوي متعلق پوښتنه کېدے شي چې دوي د مکتب درجه لري او کۀ نۀ . یو کاظم خان شېدا دے او بل امیر حمزه شینواري دے . د کاظم خان شېدا متعلق پورته پوره بحث شوے دے البته د حمزه شینواري متعلق دا خبره کولے شي چې هغه د شلمې صدۍ د غزل یو ستر شاعر دے چې په یوه حواله ورته مونږه د نوي او زوړ غزل پُل وئېلے شو. خو دغه نوے او زوړ باید چې کلاسیک او ماډرن نۀ وي . ولې چې نوے او زوړ ځانته مفهوم لري او کلاسیک او ماډرن ځانته مفهوم لري . د حمزه بابا ترجیحات کۀ د تصوف دي خو د مېرزاخان انصاري نه دي. کۀ د عشق او پند او راویتي اخلاقیاتو خبره ده خو د رحمان بابا نه دي . دغسې د حمزه بابا د پښتونولۍ یا قامي ر نگ د خوشحال خان خټک ته پۀ څۀ نۀ څۀ حواله باندې ورته دے ځکه حمزه

بـابـا پـۀ دغه لـړ کښې د ډېـرو خصوصيـاتـو بـاوجود د مـکـتب درجه نـۀ ده مـونـدلـې ۔

## حوالې

1: فېض، فېض الوهاب، درېي مياشتنۍ خال، پښتو ادبي ترون خال متحده عرب امارات، جنوري ۲۰۲۲، ص ۲۹

2: کرگر محمد اکبر، د مېرزا خان انصاري او عرفاني نړۍ لید، هاشمي خپروندویه ټولنه جلال اباد، ۲۰۱۷، مخ ۲۶

3: خټک، راج ولي شاه ډاکټر، د پښتو ادبي تحریکونه ، پښتو اکېډمي پېښور پوهنتون، ۲۰۲۲، مخ ۱۱۵

4: خټک، خوشحال خان، د خوشحال خان خټک کلیات، ترتیب تدوین سرمحقق محي الدین هاشمي، میهن خپروندویه ټولنه جلال اباد، ۲۰۱۸، مخ ۷۴۲

5: خټک، خوشحال خان، ارمغان خوشحال خان خټک، مقدمه سېدالرسول رسا، یونیورسټي بک اېجنسي، درېم چاپ ۲۰۰۱ مخ ۶

6: خټک، د پښتو ادبي تحریکونه، ص ۳۷۶

7: عبدالرحمان ، د رحمان بابا دیوان، مصصح، مدون، عبدالرؤف بېنوا،۱۹۴۷، ص ۷۲

8: سایل، خواجه محمد ، حمید بابا ژوند او فن، اعراف پبلشر محله جنګي پېښور، ۲۰۱۹، ص ۲

9: خټک، راج ولي شاه ډاکټر، د پښتو ادبي تحریکونه، ص ۳۸۲

10: مومند، عبدالحمید ، دُر او مرجان، مقدمه سېدانوارالحق کاکاخېل، یونیورسټي بک اېجنسي پېښور، درېم چاپ ۲۰۰۷، ص ۱۷۳

11: شېدا، کاظم خان ، د کاظم خان شېدا دیوان، تدوین او سریزه حنیف خلیل، دانش خپروندویه ټولنه، ۲۰۱۵، مخ ۸۱

12: هم دغه کتاب، مخ ۱۵۴

13: اعظم، محمد اعظم ، غنییات، باچاخان څېړنیز مرکز، ۲۰۱۹، ص ۵۸